په جنت کې داسې يو بازار دی چې خلک ورته هره جمعه راځي

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: په جنت کې داسې يو بازار دی چې خلک ورته هره جمعه راځي نو د شمال باد چې راوالوځي او د دوی په مخونو او کالیو (دوړې) پريوځي، نو ښکلا يې نوره هم ورسره زياته شي او کله چې دوی خپلو کورنيو ته راوګرځي، په داسې حال کې چې ښکلا او ښايست يې زيات شوی وي، نو کورنۍ يې ورته ووايي چې: قسم په الله چې زمونږ نه وروسته مو ښکلا او ښايست زيات شوی دی، هغوی به ووايي: او تاسو هم قسم په الله، چې زمونږ نه وروسته مو ښکلا او ښايست زيات شوی دی.

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې په جنت کې داسې يو ځای دی چې هغوی پکې راټولېږي، هلته پېر او پلور نه وي، بلکې څه چې غواړي هغه اخېستلی شي، نږدې د هر اوو ورځو په اندازه وخت کې ورته يو ځل راځي، نو د شمال لورې باد راوالوځي او د دوی په مخونو او کالیو کې (ګردونه) خپاره کړي چې په دې سره يې ښکلا او ښايست زيات شي، نو چې کله خپلو کورنيو ته وروګرځي په داسې حال کې چې ښکلا او ښايست يې اضافه شوی وي، نو کورنۍ به يې ورته ووايي: قسم په الله مورږ چې په وروستي ځل ليدلي وئ له هغې څخه مو ښکلا او ښايست زيات شوی دی، نو دوی به ووايي: قسم په الله چې تاسو هم ښکلي او ښايسته شوي ياست.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8353

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee